مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۱۲/۰۷

د وینا ټولنیز اغیز

د یوې وینا ټولنیز اغیز له درېیو اړخونو څېړلای شو:

۱ـ څوک، څه، ولې وایي؟

۲ـ وینا څومره له رېښتیا / علمي حقیقت سره سمون لري؟

۳ـ څوک یې مخاطب دی؟ مخاطب څه غبرګون لري؟

له حقوقي او اخلاقي پلوه لومړی پوښتنه مهمه ده. ویناوال د خپلې هرې کلیمې لپاره مسؤل دی.

له علمي او بلاغي پلوه دویمه پوښتنه مهمه ده، دلته تر ویناوال یا مخاطب ورهاخوا د وینا منځپانګه ارزول کیږي. د منښت ـ ټولنیز اغېز ـ غبرګون او موخې له اړخه درېیمه پوښتنه مهمه ده.

په سیاسي ویناوو کې ټولیز مخاطب (ټولنه) د وینا او ویناوال برخلیک ټاکي. دلته تر ویناوال زیات مخاطبان مسؤل دي.

پر ګالیلو یې توبه ایستله، کلیسا محکمې ته بیولی و، چې راووت په یوه مسخره خندا یې راټولو شویو خلکو ته وویل: ما توبه وایستله، تاسو یې هم مه منیء چې زمکه پر لمر راڅرخي... مهمه دا ده چې موږ و تاسو پر دې زمکه ژوندي پاتې شو.

د خلکو له منځه چا ورغږ کړ: موږ مؤمنینو ته د زمکې تر څرخېدو یا نه څرخېدو او ژوند دواړو ایمان مهم دی .ستا علم به ستا ژوند ته ګواښ وي، خو زموږ یې ایمان ته ګواښ پېښ کړی.

سوکرات، د واکمنو قاضیانو په حکم، د زهرو جام تر څښلو مخکې خپلو شاګردانو ته وویل: زهر څښم، خو له رېښتیا نه تېرېږم! روایت دی، چې اپلاتون ورته وویل:

هغوی چې په کوڅو او بازارونو کې ګرځي، نه حقیقت پېژني او نه هم ستا مرګ یا ژوند ورته ارزښت لري، هغوی خوښ دي، چې د خدایانو له وجوده یو منکر ګنهګار مري.

دا څو ورځې د "پټاوونو" او "امتیازاتو" کیسه توده ده. ټول یې د ویناوال پر ناپوهۍ او قساوت خاندي یا غوسه دي . خو هیڅوک د "مخاطبانو" په اړه څه نه وایي. د پټاوونو او امتیازونو وینا ته به ګڼ داسې کسان هم ناست ول، چې عزیزان یې په پټاوونو کې وژل یا ژوبل شوي دي. پوهنتونیان یا لوستي به هم ناست ول، چې پوهېدل په اکادمیک چاپېریال کې پټاووالو ته ځای ورکول لویه ناروا ده....

خو دوی څه وویل؟ د ناستو غبرګون څه وو؟

دا منم چې دلته د ویناوال او مخاطبانو اړیکه د " جلاد " او "قرباني" اړیکه ده او مخامخ غبرګون د مرګ بیه لرلای شي. زه د مخاطبانو په احتجاج ـ حضوري غبرګون یا پاڅون نه غږېږم. زما موخه د مخاطبانو شعوري غبرګون دی .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوښتنه دا ده، چې د افغانستان ځومره خلک له دې سره همغږي دي، چې امتیازات ـ ان اکاډمیک هغه ـ باید د پټاوونو له شمېر سره سم ورکړل شي؟

زموږ ملي بدمرغي مخامخ له همدغه شمېر سره تړلې ده.

روښانتیا او ویښتیا به هله راشي، چې د شاتګپالو، بې عاطفې او جلادوزمه ناریښتینو د روایتونو په وړاندې تولیز غبرګون شعوري، عقلاني، ځرګند او همغږی وي.

مېړې او پسونه د لیوه هر روایت د ایمان حکم ګڼي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ